# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ پنځمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۵مه | ۶۳۵مه ګڼه

2 017550 139621


**کتاب**

۴ مخ

## هیلې مو پر رښتیا بدلې کړئ



د کتاب لیکوال وایي، زما هیله دا ده چې زه هم ستاسې لپاره له هغو هڅوونکو ښوونکو یو شم. غواړم تاسې دې ته اماده کړم چې د خپلو موخو په پېژندلو سره وشی کولای هغوی ته ورسېږی. څنګه؟ باوري یم که په دې کتاب کې راغلې پوښتنې له ځانه وپوښتی او وشی کولای چې په سم ډول هغوی ته ځوابونه پیدا کړی، تاسې به خپلو موخو ته د رسېدو لپاره تر ټولو ښه چانس ولری.

**کرنې ریاست:**

## په هلمند کې د زعفرانو د حاصلاتو د ټولولو لړۍ پیل شوه



د هلمند د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي چې په دغه ولایت کې د زعفرانو د کرکېلې د دودولو په پار یې بزګرانو ته د زعفرانو ۱۲ نندارېزې قطعې جوړې کړې وې، چې اوس یې د ګل ټولولو وخت دی.


د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو وایي، چې په دغه ولایت کې د زعفرانو کرکېله بریالۍ وه او هیله یې ښودلې چې په هلمند کې د زعفرانو کرکېله پراخه شي.

الکو وایي چې په دغه ولایت کې د زعفرانو دودولو په پار ۱۲ نندارېزې قطعې جوړې شوې وې. د هغه په خبره، د دغو ۱۲ نندارېزو قطعو د جوړولو په پار پر ۱۲ بزګرانو د زعفرانو پیاز او نور اړین توکي وېشل شوي او ترڅنګ یې یادو بزګرانو ته د قلبې او د ځمکې د هوارولو لګښتونه هم ورکړل شوي وو.

الکو وایي چې د دغو مرستو موخه په هلمند کې د زعفرانو د کرکېلې دودول او له دې لارې د بزګرانو د عوایدو زیاتول دي.

# جنیوا کنفرانس ته هیلې او اندېښنې؛

## مرستندویو هېوادونو له افغانستان سره د میلیاردونو ډالرو مرستې ژمنه کړې ده



Denis Balibouse (Reuters)

۳

**ولسمشر غني له پاکستان سره بیا په کومه معامله کې دی؟**

۲ مخ

**چین د افغانستان د باور وړ ګاونډی او ملګری دی**

۲ مخ

**د افغانستان د بریښنایي او مخابراتي سکتورونو ریګولېشن؛ یوه پرتله**

۳ مخ

## گوترېش: د اوربند په رامنځته کېدو د سولې خبرې بریالۍ کېدای شي

د ملګرو ملتونو عمومي منشي په جنیوا کنفرانس کې له طالبانو د اوربند غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې که طالبان اوربند ته غاړه کېږدي، نو په قطر کې به روانې خبرې ښې پر مخ ولاړې شي.

هغه دغه څرګندونې د افغانستان په اړه د جنیوا د مرستو او همکاریو دوه ورځنی کنفرانس ته کړې دي. دغه کنفرانس ته د نړۍ له شاوخوا سلو هېوادونو او د نړیوالو مرستندویو سازمانونو وزیران او استازي په حضوري او د کرونا ویروس له امله په انلاین ډول را ټول شوي دي.

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش دغې غونډې ته په خپلو خبرو کې له افغانستان سره د ملګرو ملتونو پر ملاتړ سربېره، د سولې، بشري حقونو او د ښځو حقونو په برخو کې د همکاریو پر دوام ټینګار وکړ. نوموړي وویل چې په افغانستان کې د لا ډېرې مرګ ژوبلې او د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره دې د بشرپالنې له مخې سمدستي اوربند وشي.

ګوترېش ویلي: «که طالبان اوربند ته غاړه کېږدي، نو په قطر کې به روانې خبرې ښې پر مخ ولاړې شي او د افغانانو د سولې ارمان به پوره شي.»

هغه زیاته کړې، په افغانستان کې د سولې ټینګښت له امله به میلیونونه افغان کډوال خپل هېواد ته ستانه شي او په کار ده چې د سولې په خبرو کې ټولې خواوې ونډه واخلي.

د یادونې ده، نوموړي تر دې مخکې هم په افغانستان کې د بشري اوربند غوښتنه کړې وه، خو د طالبانو له خوا نه وه منل شوې.

**ولسي جرګه:**

## ولسمشر غني دې خپل لومړی مرستیال استعفا ته اړ کړي



۲ مخ

**جاوید قایم:** ## په چین کې د پښتو او دري ژبو او افغاني کلتور مرکز جوړېږي




په چین کې د افغانستان سفیر جاوید قایم وایي، تر راتلونکو دوو کلونو پورې به په چین کې د پښتو او دري ژبو او دغه راز د افغاني کلتور یو مرکز جوړ شي.

نوموړي پر خپله فېسبوک پاڼه لیکلي، چې وړمه ورځ یې د بیجېنګ د بهرنیو مطالعاتو د پوهنتون له مرستیال؛ جیا وینجیان او د اسیایي مطالعاتو د پوهنځي له رییسې مېرمن سو ینګیین سره په چین کې د پښتو او دري ژبو او کلتور د مرکز پر پرانیستلو بحث او خبرې اترې کړې دي.

ښاغلی جاوید قایم وایي، د بیجېنګ د بهرنیو مطالعاتو پوهنتون به سږ کال یو استاد د پښتو ژبې د لا ډېرې زده کړې لپاره کابل پوهنتون ته واستوي او تر راتلونکو دوو کلونو پورې به په چین کې د پښتو او دري ژبو او کلتور مرکز فعال کړي.

د یادونې وړه ده چې اوس هم د چین د یوه پوهنتون د بهرنیو ژبو په پوهنځي کې د پښتو ژبې ځانګړی ډیپارتمنت شته او هر کال ترې یو شمېر محصلین د لیسانس په کچه فارغېږي او په اړونده برخه کې فعالیتونه کوي.

سرلیکنه

# ولسمشر غني له پاکستان سره بیا په کومه معامله کې دی؟

افغانستان ته د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان له سفر وروسته ښکاري چې کابل یو ځل بیا پاکستان ته یو اړخیز امتیازات ورکوي. ولسمشر غني د یوه فرمان له مخې، په افغانستان کې د پاکستاني بندیانو د خوشې کولو امر کړی دی. له بله اړخه د پاکستان او افغانستان ترمنځ په یوه رسمي سند کې د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ په تړاو پاکستان ته سپیناوی ورکړل شوی دی. داسې ښکاري چې ولسمشر غني یو ځل پاکستان ته یو اړخیز امتیازات ورکوي. تر دې وړاندې هم پاکستان ته ډېر یو اړخیز امتیازات ورکړل شوي دي. پر ډیورنډ کرښه اغزن تار او تاسیسات، د قبایلو لاندې کول، د ټي ټي پي پر ضد ګامونه، د بلوڅ ملتپالو جنګیالیو پر ضد ګامونه، د پاکستاني طالبانو سپارل او د هغوی د ځینو مشرانو وژل او ګڼ نور داسې کارونه شوي چې پاکستان ته یو اړخیز امتیازات ګڼل کېږي او د پاکستان لپاره ستړې لاسته راوړنې دي.

پوښتنه دا ده چې دا یو اړخیز امتیازات چې د څه په بدل کې ورکول کېدل، ایا هغه لاسته راغلي دي او که نه؟

پاکستان ته دغه امتیازات د دوو موخو لپاره ښايي ورکول کېدل، یوه دا چې پاکستان له افغانستان سره د حکومت د غوښتنې پر اساس په سوله او ثبات کې مرسته وکړي. پاکستان په دې برخه کې ډېرې ژمنې وکړې، چې یوه یې هم عملي نه کړه، خو د اشرف غني حکومت د ژمنو تر عملي کېدو وړاندې ډېر څه ورکړل. دویم دا چې ولسمشر غني له پاکستان څخه شخصي غوښتنې لرلې. په دې اړه کوم کره ثبوت نشته، خو مهمو سیاستوالو او آن د ولسمشر غني د کابینې غړو دا ډول ادعاوې کړي چې اشرف غني له پاکستان سره د شخصي ګټو په معامله کې و چې پکې نغدي پیسې او په ټاکنو کې مرستې هم شاملې وې. دا چې پاکستان دا څه اشرف غني ته ورکوي او که نه، خلک نه پوهېږي، خو دا واضح ده چې ولسمشر غني پاکستان ته ډېر څه ورکړي او په بدل کې یې هېڅ داسې څه نه دي تر لاسه کړي چې ولس او افغانستان ته دې ګټور وي.

ستونزه دا ده چې له اوږدو تجربو او ناکامو یا ظاهراً ناکامو معاملو وروسته اوس حکومت یو ځل بیا له پاکستان سره په معامله کې دی او ښايي پاکستان ته ډېر پټ او ښکاره امتیازات ورکړي چې ځیني یې سر له اوسه پیل شوي دي. که اشرف غني دا تمه لري چې پاکستان به ورسره د سولې په پروسه کې هغسې مرسته وکړي چې دوی یې غواړي، نو تېروتنه کوي؛ ځکه چې پاکستان د خپلو ګټو او له امریکا سره د معاملې پر اساس مخ ته ځي. اوس که پاکستان هر څو ژمنې وکړي، خو په عمل کې به هېڅ ګام د افغان حکومت په خوښه او غوښتنه وا نه خلي. که خبره دا وي چې اشرف غني د خپل واک د دوام لپاره او یا هم په راتلونکي سیاسي نظام کې د شراکت لپاره له پاکستان سره په کومه معامله کې وي او د دې لپاره پاکستان ته امتیاز ورکوي، دا نو بیا بده معامله ده چې هېڅ ډول ښې پایلې به ونه لري. ولسمشر غني او ملګري یې باید پوه شي چې پر ملي مسایلو د شخصو ګټو لپاره معاملې او لوبې به دوی ته ګرانې پرېوځي او دوی به هرو مرو د ولس له حساب کتاب سره مخ کېږي.

# چین د افغانستان د باور وړ ګاونډی او ملګری دی



عبدالباسط کړوخیل

د هرې ورځې په تیرېدو سره دا جوتیږي چې افغانان له زړه غواړي چې له چین سره د یوه ښه ګاونډي او پرمختللي هیواد په توګه سوداګریزې، فرهنګي، علمي او ټولنیزې دوه اړخیزې اړیکې ولري. دا اړیکې اوږدمهاله او د دواړو هیوادونو د ملي منافعو په رڼا کې لاټیګښت او پراختیا مومي.

له ۲۰۰۱ کال راهیسې چې کله په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ له نسکورېدو وروسته نوی نظام رامنځ ته شو، له همغه راهیسې چین په بېلابېلو برخو کې د افغانستان د خلکو لاسنیوي ته راودانګل، په بېلابېلو برخو کې یې د مرستو ژمنې وکړې او هغه ژمنې یې یوه په بله پسې په عمل کې پلې کړه، په دې ژمنو کې د افغان کادرونو روزنه، د اداري کارمندانو د ظرفیت لوړول، د طبیعي پېښو له ځپلو سره مالي مرستې، د ټکنالوژۍ په برخه کې مرستې، د افغانستان په کورني او بهرني سیاست کې نه لاسوهنه، د افغانستان د قانوني نظام ملاتړ، په نظامي او لوجستیکي برخو کې مرستې او نور هغه څه دي چې د ټولو یادول زیات وخت ته اړتیا لري.

د چین هیله دا ده چې دوی دې په خپل ګاونډ کې یو ارام او له ترهګرۍ پاک افغانستان ولري، چې خلک یې له اقتصادي پلوه په خپل ځان متکي او له جګړو خوندي وي، څو یې زیان دوی ته هم ونه رسیږي. چین په دې ښه پوهیږي او د تاریخ په اوږدو کې ورته تجربه شوې چې افغانان د دوی ښه ګاونډیان دي او هیڅکله به ترې زیان ونه ویني.

افغانان هم د چین په اړه همداسې نظر لري او څومره یې چې په توان کې وي، تر هغې کچې به هڅه وکړي چې له افغانستان سره د چین پولې خوندي او هیڅ چا ته به اجازه ورنه کړي چې د نړیوال تروریزم شومه پدیده د افغانستان له لارې خدای مه کړه د چین پولو ته ورسیږي چې دا بیا د رښتینې دوستۍ ښکاره نښه ده.

افغانان له ډېر پخوا راهیسې له چین سره سوداګریزې راکړې او ورکړې لري او دغه بهیر د ورځې په تیرېدو سره د غوړېدو په حال کې دی. که تاسو ځیر شوي یاست په دې وروستیو کې د افغانستان ډېره وچه میوه په خاصه توګه جلغوزي چې په لویه پکتیا کې په پراخه کچه حاصلات لري، اوس د یوه تړون له مخې د هوایي دهلیز له لارې چین ته ځي چې په بیه کې یې څو چنده زیاتوالی راغلی او د لویې پکتیا اوسیدونکو ته یې د ښه اقتصاد ډېرې هیلې پیدا کړې دي. له دې مخکې به دغه جلغوزي پاکستان ته تلل او پاکستان به تر یوڅه پروسس او بسته بندۍ وروسته په خپل نامه نورې نړۍ ته صادرول، چې هم به یې ډېرې پیسې ترې تر لاسه کولې او هم به د شهرت خاوند و.

د دې تر څنګ، د هرات زعفران چې اوس یې نړیوال شهرت او مقام پیدا کړی، چین هیواد ته صادرېږي چې دې کار په افغانستان کې کروندګرو ته دا هیله پیدا کړې چې د زعفرانو د کر په برخه کې د دوی خوارې بې ځایه نه ده او له لارې یې ښه عاید پیدا کولی شي، نو چین ته د زعفرانو په صادرېدو سره له یوې خوا په افغانستان کې د زعفرانو په بیو کې لوړوالی راغلی او بل پلو کروندګر په دې وپوهیدل چې دغه بوټې نړیوال مارکېټ ته لار پیدا کړه او زیات کر به یې دوی ته ډېره ګټه وکړي.

بلخوا که وګورو د افغانستان زیاتره لوی ښارونه د چینايي بېلابېلو مالونو د پلور ښه مرکزونه ګرځیدلي او زیات افغان سوداګر ډېرې چینايي توکي افغانستان ته راواردوي، چې دلته په افغانستان کې یې ښه بازار موندلی او د هرې ورځې په تیرېدو سره دغه سوداګري رونق مومي.

د دې ټولو راکړو ورکړو تر څنګ، اوس چین ته د افغانانو تګ راتګ هم زیات شوی، ځینې ځوانان د زده کړو لپاره، ځینې حکومتي کارمندان د وړتیا لوړولو په موخه، ځینې کسان د سیاحت لپاره او ډېری افغانان د سوداګریزو چار د پر مخ بیولو په موخه چین ته روان دي او له بېرته راتګ څخه وروسته د چین د پرمختګ او ښه سلوک په اړه خپلو نورو افغانانو ته معلومات ورکوي، خاطرې ورسره شریکوي او چین ورته د یوه پرمختللي هیواد په توګه معرفي کوي، چې دغه کار بیا نور افغانان هم هڅوي چې له قانوني لارو له چین څخه لیدنه وکړي او د لیدو تنده یې خړوبه شي.

افغانان د هغې ورځې انتظار کوي او هیله لري چې په افغانستان کې تر بشپړ امن وروسته افغانستان له چین سره د سړک او اورګاډي له لارې وصل او د ځمکې له لارې بې له کوم قید او شرط پرته خپل ګاونډي هیواد چین ته چې د نړۍ په کچه یو پیاوړی او په ځان متکي هیواد دی، سفر وکړي او د دغه هیواد له بېلابېلو پرمختګونو څخه لیدنه ولري. دغه راز چینايي وګړي هم په ورته توګه افغانستان ته راشي او د دې هیواد ښکلې طبیعي منظرې او تاریخي ځایونه وګوري او د دغه هیواد له ځانګړتیاوو ځانونه خبر کړي.

چین د افغانانو په مشرۍ او مالکیت له سوله ییز بهیر او له ګاونډیو هیوادونو سره د اړیکو د ښه والي په برخه کې له افغانستان څخه ملاتړ کوي. دواړې خواوې به د استانبول پروسې او شانګهای همکارۍ سازمان په ګډون، په سیمه ییز او نړیوال چوکاټ کې همکارۍ پیاوړې او نړیواله ټولنه به وهڅوي، چې افغانستان ته لا زیاتې مرستې برابرې او خپلې ژمنې پوره کړي.

مونږ په دې ښه پوهیږو چې د چین په څېر یوه پرمختللي او دوست هیواد سره زمونږ ښه راتلونکې تړلې دی او هرکله یې مونږ ته ګټه رارسیدلې او رارسیږي، نو د ټولو افغانانو هڅه هم همدا ده چې باید د پرمختګ په چارو کې د چین له تجربو او مشورو ګټه واخلو او له هغوی سره تل په اړیکه کې واوسو، چې دا کار په ښه اعتماد، ښې مخینې، رښتینولۍ او دوستانه راشې درشې سره کیدای شي، نو له همدې امله هر افغان په ځانګړې توګه ځوان نسل غواړي چې له چین سره دې دوستۍ نوره هم وغوړول شي او د زیاتې دوستۍ نوره زمینه دې هم برابره شي.

زه یو له هغو افغان ځوانانو څخه یم چې چین ته مې یو کال د مخه رسمي سفر درلود او د هغه هیواد د خلکو په زیار، ابتکار او خولې تویولو مې افرین ووایه او دې ته وهڅول شوم چې ټول افغانان په ځانګړې توګه ځوان افغان قشر باید د چینایانو په څیر شپه او ورځ زیار وباسي، څو یې هېواد په بېلابېلو برخو کې د نړۍ له سترو قدرتونو سره سیال او د سیالۍ ډګرې ووهي، که داسې ونه کړو، نو د نورو لاسته به ناست او تل به د اړمنو انسانانو په څیر له ستونزو او احتیاجیو ډک ژوند تېروو او راتلونکې نسل ته به هم څه نه لرو، نور د چین په څیر زیار او هڅه باید د ژوند شعار او عمل وګرځوو، څو ځان او راتلونکی نسل له کړاو ډک او خوار ژوند څخه وژغورو.

تېر مهال، اوس او په راتلونکې کې به چین د افغانستان د باور وړ ګاونډی او ملګری وي. مونږ هیله کوو چې په افغانستان کې ژر تر ژره سوله، ثبات او پرمختګ رامنځ ته شي او افغانان له بشري تمدن او پرمختګ څخه ګټه واخلي. مونږ به په ګډه کوښښ کوو چې د دواړو هیوادونو روښانه راتلونکې پیل او د چین او افغانستان تر منځ دوستي نسل په نسل پیاوړې کړو. دا مو هیله ده چې افغانستان سمسور او خلک یې نیکمرغه شي.

تل دې وي د چین او افغانستان تر منځ اوږدمهاله دوستي!


د جګړې ترڅنګ سیاسي کړکېچ او ناندرۍ؛

# ولسي جرګه: ولسمشر غني دې خپل لومړی مرستیال استعفا ته اړ کړي

د ولسي جرګې غړو د ولسمشر د لومړي مرستیال د استعفا غوښتنه کړې ده. وکیلانو د امرالله صالح پر وروستیو څرګندونو غبرګون ښودلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې امرالله صالح جنیوا کنفرانس ته د خبرو پر مهال ویلي وو چې د افغانستان د پارلمان غړي په فساد کې ښکېل دي. دې مسئلې د ولسي جرګې غبرګون پارولی او په خبره یې، جرم فردي عمل دی او حکومت باید هر هغه فرد عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي کړي چې په فساد کې ښکېل وي.

دوی وایي چې د ولسمشر لومړی مرستیال پر ټول پارلمان تور نه شي پورې کولی. د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني وایي، د ولسمشر د لومړي مرستیال ټول تورونه په کلکو ټکو غندي او له نوموړي د اسنادو غوښتنه کوي. د ولسي جرګې غړو په یوه خپره



کړې اعلامیه کې له ولسمشر وغوښتل چې خپل لومړی مرستیال امرالله صالح استعفا ته اړ کړي، ځکه د کار دوام به یې د کورنیو جګړو او بېلو اړخونو ترمنځ د ناندریو د دوام سبب شي.

بلخوا د ولسمشر لومړي مرستیال د وکیلانو دغو څرګندونو ته غبرګون ښودلی دی. امرالله صالح ویلي، دی ولسي جرګې ته درناوی لري، خو په خبره یې، دا درناوی باید د دې جرګې د غړو له لوري پر هرې تېروتنه او قانون ماتونه د سترګو پټولو په مانا نه وي. هغه زیاته کړې، د ولسي جرګې پاک نفسه غړي هم له ده سره همغږي دي او ټول په یوه خوله وایي چې وکیلان ملایکې نه دي او نه دې هم دا ادعا کوي.

بلخوا پر ولسي جرګې سربېره، د امرالله صالح او د جمعیت اسلامي ګوند د اجرایه مشر عطا محمد نور ترمنځ هم نوې ناندرۍ رامنځ ته شوې دي. عطا محمد نور په دې وروستیو کې په خپلو څرګندونو کې ویلي وو چې امرالله صالح وظیفوي تداخل کوي او د نورو ادارو په چارو کې مداخله کوي. د ده په خبره، لومړی مرستیال د خپلو سیاسي سیالانو د کمزوري کولو لپاره تورونه پورې کوي او هڅه کوي سیاسي څېرې بدنامې کړي، خو امرالله صالح په فېسبوکي پیغام کې د عطا محمد نور پر څرګندونو غبرګون ښودلی دی. نوموړي ویلي چې ټول اطلاعات یې سم، دقیق او کره دي. د ده په خبره، د فساد، زورواکانو، غاصبانو او ولس ازاره خلکو پر وړاندې به یې مبارزه روانه وي. صالح ټینګار کوي چې په حیرتان بندر کې به هم ډېر ژر د فساد پر ضد پراخ عملیات پیل کړي. د ده په وینا، د ټولو هغو کړیو اسناد ورسره شته دي چې په دې بندر کې د فساد ملاتړ کوي. صالح عطا محمد نور ته ګوتڅنډنه کړې چې په چارو کې یې مداخله ونه کړي او په خبره یې، دی خپلو اصلاحي اقداماتو ته ادامه ورکوي.

# د افغانستان د برېښنايي او مخابراتي سکټورونو رېګولېشن؛ يوه پرتله

محسن امين

**وروستۍ برخه:**

**پایله او وړاندیزونه**

له ۲۰۰۲ کال وروسته کله چې په افغانستان کې د مارکېټ او سیالۍ پر اساس اقتصادي موډل غوره شو، د سکټورونو د رېګولیشن په اړه د افغانستان له حکومتونو سره باید واضحه کړنلاره موجوده وی. له بده مرغه د افغانستان په هر هغه سکټور کې چې ولس ته پکې خدمتونه عرضه کېږي، هلته رېګولیشن له جدي ننګونو سره مخ وي. د خصوصي سکټور هغه کړۍ چې سیاستوالو سره نږدې اړیکې لري، هغه په یو نه یو ډول د خپلو ګټو او پانګونو ساتنه کوي، خو د خصوصي سکټور هغه برخه چې سیاستوالو ته لاسرسی نه لري او یا په اداري فساد کې برخه نه اخلي، د هغوی له پانګونو او ګټو څخه ساتنه نه ده شوې او له همدې امله په پراخه کچه په افغانستان کې د پانګې اچونې بهیر وده نه ده کړې.

د رېګولیش موخه دا ده چې د پېرودونکو حقونه د خصوصي سکټور او شرکتونو له ناسم چلند څخه وساتي او خصوصي سکټور د حکومت د ناسمو پرېکړو او پالیسیو څخه وژغوري څو مالي زیان ونه ګالي. په دې برخه کې باید د خپلواکو تنظیم ادارو ته وده ورکړل شوې وی چې متخصص او مسلکي کدرونه یې رهبري کړي او د وزارتونو، ولسمشرۍ دفترونو او سیاستوالو له اغېزو پرته ریګولیشن وکړي، له بده مرغه تر ننه پورې پر دې لرلید باندې کار ونه شو.

د برېښنا په سکټور کې لومړی خو پکار دا وه چې په ۲۰۰۴ کال کې د حکومت لخوا د انرژۍ سکټور لپاره روښانه او عملي لرلید جوړ شوی وای، ورپسې قوانین او پالیسۍ یې په ۲۰۰۵ او ۲۰۰٦ کلونو کې ترتیب او نهایي کړې وای. خصوصي سکټور کولای شول چې په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې په پراخه کچه پانګونه کړې وی، بلکل لکه څنګه چې د مخابراتو په سکټور کې تر سره شوه او له نشت څخه ټلیفون او مخابراتو ته د خلکو لاسرسی تر ۹۰٪ سلنې ورسېد. د برېښنا سکټور مسوولینو د قانون جوړونې او حقوقي چوکاټ په رامنځ ته کولو کې ډېر ځنډ وکړ چې ارزښتمن چانس پکې ضایع شو. له بده مرغه حکومتي چارواکو، ډونرانو او د هغوی نړیوالو کارپوهانو په دې برخه کې پاملرنه ونه کړه.

د مخابراتو په سکټور کې د قانون او حقوقي چوکاټ په جوړولو کې پرمختګ وشو او په وخت باندې ګامونه پورته شول، خو د کیفیت، پوښښ او د پېرودونکو له حقونو څخه سمه ساتنه نه ده شوې. لا تر اوسه د تنظیم اداري پوره استقلالیت نه دی تر لاسه کړی او د وزارتونو او سیاستوالو تر اغېزو لاندې ده. د اترا اداره مکلفه ده چې د افغانستان ولس ته دا روښانه کړي چې د ټیلیکام په سکټور کې رونټیا شته او د افغانستان د خلکو او اقتصاد اړوند عادلانه پرېکړې پکې اخیستل کېږي. د اترا اداري باید د افغانستان خلکو ته دا ډاډ ورکړی وی چې خصوصي سکټور به د هغوی تر څار لاندې ناعادلانه کړنې تر سره کوي او همدارنګه حکومت هم دې ته نه پرېږدي چې د ډېرو سختګیرو له امله خصوصي سکټور دې ته اړ کړي، چې خپل دفترونه وتړي او د خدماتو د عرضه کولو لړۍ زیانمنه کړي.

د برېښنا د سکټور لپاره مو وړاندیز دا دی چې ژر تر ژره دې د تنظیم خپلواکه اداره رامنځ ته شي او د برېښنا قانون دې تعدیل شي چې د تنظیم اداره د انرژۍ وزارت پورې ونه تړي. د اداري په رهبرۍ کې دې وړ خلک وګماري او حکومت دې د سیاسي او بیروکراتیکیو لاسوهنو مخه ونیسي. بل وړاندیز دا دی چې د اوبو او انرژۍ وزارت اداري جوړښت دې د یوې پالیسي جوړونکې اداري لپاره جوړ شي، نه دا چې د پروژو تطبیق وکړي او د برېښنا په شبکه کې مداخله وکړي. تر اوسه د انرژۍ وزارت د انتقال د لینونو او سب سټېشنونو پروژې تطبیقوي چې دا د پالیسي جوړونکې وزارت په دندو کې نه راځي. همدارنګه د افغانستان برېښنا شرکت دې د پالیسۍ او رېګولیشن په برخه کې لاسوهنه نه کوي او تمرکز دې د شبکې پر مدیریت او عملیاتو وکړي.

په اوس وخت کې خصوصي سکټور ته په دوو برخو کې سخته اړتیا ده چې پانګونه وکړي: د برېښنا د تولید په برخه کې او دویم د برېښنا د توزیع او د پېرودونکو د میټرونو په نصب، میټر لوستل او د بیلونو په ویش کې کار وکړي. د برېښنا د تنظیم اداره دې خصوصي سکټور ته د برېښنا د تولید جوازونه ورکړي چې د هېواد په مختلفو برخو کې برېښنا تولید کړي او په دا ډول پر وارداتو اتکا را کمه شي. همدارنګه د پنځو لویو ښارونو هر یو کابل، کندهار، هرات، ننګرهار او مزارشریف د توزیعي شبکو مدیریت دې خصوصي سکټور ته وسپاري. د حکومت مسوولین او د برېښنا شرکت چارواکي دې په دې غور وکړي چې شبکه په خصوصي سکټور پلورې او که د ۱۵ یا ۲۰ کلونو لپاره یې په اجاره ورکوي. پر دواړو موډلونو دې غور وکړي، خو دا ضروري ده چې شبکې پر زونونو ووېشل شي او د خدماتو عرضه خصوصي سکټور ته ورکړل شي. له دې سره به خلکو ته د برېښنا لاسرسی زیات شي، تر کلیو به برېښنا ورسېږي او د برېښنا په کیفیت کې به ښه والی راشي.

د مخابراتو په سکټور کې وړاندیز دا دی چې د اترا اداري ته دې بشپړ استقلالیت ورکړل شي او نور جهتونه دې پکې لاسوهنه نه کوي. د اترا اداري په رهبرۍ کې دې وړ او باتجربه خلک وګماري چې دا توانایي ولري څو ستر او مغلق مخابراتي شرکتونه چې پېرودونکي یې له میلیونونو څخه اوړي، تنظیم کړای شي. د اترا اداري د تخنیکي او مدیریتي ظرفیت د لوړولو بهیر د پیل شي، د نړۍ د نورو ټیلیکام د تنظیم له ادارو سره دې مجلسونه او راشه درشه پیل کړي چې د هغوی له تجربو څخه زده کړه وکړي. د سیاسي او شخصي موخو لپاره د سکټور رېګولیش کمزوري کول، د تنظیم اداري بې ارزښته او بې تاثیره کول به لویه تېروتنه وي.

**پای**

# جنيوا کنفرانس ته هيلې او اندېښنې؛

## مرستندويو هېوادونو له افغانستان سره د ميلياردونو ډالرو مرستې ژمنه کړې ده



د افغانستان په اړه په جنیوا کې په جوړ شوي کنفرانس کې د میلیاردونو ډالرو مرستې ژمنه شوې ده. د افغانستان د مالیې وزارت وایي چې تر دې دمه د شپږو میلیاردو ډالرو په شاوخوا کې د مرستې ژمنې ورسره شوې دي، خو تر څنګ یې ګڼ نور ستر مرسته کوونکي هېوادونه پاتې دي چې تر دې دمه یې د مرستو په اړه ژمنې نه دي کړې. بلخوا په افغانستان کې د دغو مرستو د لګولو او همدا راز مدیریت په برخه کې ګڼې اندېښنې موجودې دي. د اقتصادي مسایلو شنونکي وایي، ډاډه نه دي چې افغان حکومت دې شوې مرستې په شفافه توګه ولګوي.

په جنیوا کې د افغانستان په اړه د مرستندویو هېوادونو کنفرانس جوړ شوی و. په دغه کنفرانس کې له افغانستان سره تر ۲۰۲۵ز کال پورې د مالي ملاتړ لپاره مرستندویو هېوادونو او بنسټونو د خپلو ژمنو په اړه خبرې وکړې. په دې کنفرانس کې ګڼو اروپایي هېوادونو له افغانستان سره په بېلو برخو کې د مرستو ژمنه کړې او ډاډ یې ورکړی چې له افغان حکومت به خپل ملاتړ ته ادامه ورکوي.

د کنفرانس په لومړۍ ورځ تر ډېره تمرکز د افغانستان په سوله و او ټولو ګډونوالو هېوادونو ټینګار وکړ چې باید په افغانستان کې روان تاوتریخوالی ژر تر ژره پای ته ورسېږي. ملګرو ملتونو، اروپایي ټولنې او ګڼو نورو نړیوالو بنسټونو ټینګار وکړ چې په افغانستان کې باید روانه خونړۍ جګړه پای ته ورسېږي.

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش په خپلو څرګندونو کې وویل چې افغان حکومت په ډېرو برخو کې پرمختګونه کړي او نړیوالې ټولنې ته په کار ده چې په دغه هېواد کې د پرمختګونو، امنیت، ثبات، سولې او بشري حقونو د خوندیتوب لپاره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي. هغه ډاډ ورکړ چې ملګري ملتونه د افغانستان تر څنګ ولاړ دي او د دغه هېواد د سولې په راوستو کې به خپلې هڅې کوي.

بلخوا مرستندویو هېوادونو بیا د میلیاردونو ډالرو مرستې ډاډ ورکړی دی. په دې غونډه کې اروپايي ټولنې یو میلیارد او ۲۰۰ میلیونه ډالر، برېټانیا د کال ۱۵۵ میلیونه پونډه، جاپان ۷۲۰ میلیونه ډالر، کاناډا د راتلونکو درېو کلونو لپاره ۲۷۰ میلیونه ډالر، هالنډ ۲۲۰ میلیونه ډالر، ډنمارک د راتلونکو درېو کلونو لپاره ٦۴ میلیونه ډالر، ناروې ۷۰ میلیونه ډالر، استرالیا ۱۴۷ میلیونه ډالر، سویډن له ۲۰۱۵ تر ۲۰۲۴ ز کاله پر خپلې ۹۳۲ میلیون ډالرو مرستې ژمن پاتې کېږي، ایټالیا د ۲۰۲۱ ز کال لپاره ۳۵ میلیونه یورو مرسته اعلان کړې او هند بیا ویلي چې دوی به په کابل کې شاه توت بند رغوي. د مالیې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي په یوه ویډیويي پیغام کې ویلي، د غونډې په بله برخه کې به نور مهم هېوادونه او بنسټونه؛ لکه، امریکا، سعودي عرب او نړیوال بانک له افغانستان سره خپلې مرستې اعلان کړي.

د مالیې وزارت مرستیال عبدالحبیب ځدران هم وایي چې تر دې دمه د شاوخوا شپږ میلیارده ډالرو مرستې ژمنه شوې، چې ځینو لویو مرستندویانو هېوادونو تر دې دمه خپلې مرستې نه دي اعلان کړې. د نوموړي په خبره: ((لا هم یو شو لوی مرستندوی هېوادونه؛ لکه، امریکا، همدا راز نړیوال بانک او ځینې نور هېوادونه دي چې دوی به وروسته خپلې مرستې اعلان کړي)). هغه همدا راز ویلي چې ځینې هېوادونه به یو کلنې مرستې کوي، د یوه کال په موده کې به دوی خپل پرمختګونه ارزوي او د همدې پر بنسټ به خپلو مرستو ته ادامه ورکوي.

بلخوا په افغانستان کې بیا د دې مرستو په تړاو ګڼې اندېښنې موجودې دي. د اقتصادي مسایلو شنونکي پر دې باور دي چې په مرستو کې کموالی راغلی دی او دوی یې هم لامل د فساد پر وړاندې د افغان حکومت کمزوري اقدامات او دغه راز په نړۍ کې د کرونا وبا خپرېدل یادوي. د اقتصادي چارو شنونکی قیس محمدي وایي، جنیوا د افغانستان لپاره تر ټولو مهم کنفرانس دی چې افغان حکومت باید پکې پراخې لاس ته راوړنې لرلی. هغه وایي، له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې مرستې مهمې دي، خو د دغو مرستو په لګولو کې لا هم پر شفافیت باوري نه دی. د ده په خبره: ((دغه مرستې د افغانستان لپاره حیاتي دي، خو افغان حکومت شفافیت نه دی راوستی، په کمېسیونونو فساد نه ختمېږي، ښایي په دې برخه کې پراخ فساد وشي چې نړیوال به مرستې کمې کړي)).

په ټولنیزو رسنیو کې هم د اقتصادي مسایلو شنونکو او عامو افغانانو د دغو مرستو پر لګول کېدو اندېښنه ښودلې او په دې باور دي چې د تېر په څېر به بیا هم فساد د دې سبب شي چې دغه مرستې په افغانستان کې اغېزناکې تمامې نه شي.

# له کړکېچ او ناندريو وروسته؛

## د ټرمپ ادارې د بايډن بريا منلې او بل حکومت ته د واک لېږد پيلېږي






د امریکا د عمومي خدماتو اداري جو بایډن د امریکا په ولسمشریزو ټاکنو کې بریالی بللی او د واک د لېږد په اړه یې د چمتووالي خبر ورکړی دی.

د امریکا په ولسمشریزو ټاکنو کې د جمهوري غوښتونکي ګوند کاندید او برحاله ولسمشر ډونالډ ټرمپ چې تر دې مهاله یې د بایډن بریالیتوب نه دی منلی، په یو ټویټ کې خپل ټیم ته لارښوونه کړې چې د واک د لېږد بهیر کې همکاري وکړي، خو ژمنه یې کړې چې خپلې مبارزې ته به دوام ورکړي.

په ورته وخت کې د امریکا د عمومي خدماتو اداري پر رییسې امیلي مورفي چې د واک د لېږد په بهیر کې د اسانتیاوو رامنځته کولو مسوولیت لري، د امریکا د دواړو سیاسي ګوندونو، کارپوهانو، ملي امنیت او سوداګرو مشرانو لخوا ورباندې انتقادونه شوي دي.

مورفي جو بایډن ته په یو لیک کې لیکلي: «لطفاً پوه شئ چې ما دغه پرېکړه خپلواکه، د قانون په اساس او موجودو حقایقو ته په کتو کړې ده، هېڅکله په مستقیم او غیر مستقیمه توګه د کوم اجرایي برخې د مشر او یا د سپینې ماڼۍ او یا د هغو کسانو له خوا چې د عمومي خدماتو په اداره کې کار کوي، زما د تصمیم د ماهیت او نېټې په اړه تر فشار لاندې نه یم نیول شوې.» وروسته له هغې چې رسنیو د دغه لیک د محتوا په اړه خبرونه ورکړل، ټرمپ هېواد ته د مورفي له ژمنې او وفادارۍ څخه د مننې ترڅنګ په یوه ټویټ کې د خپلې اداري په اړه د مبارزې خبر ورکړ.

ټرمپ په دې اړه ویلي: «موږ خپلې مبارزې ته دوام ورکوو او باور لرو چې کامیاب کېږو! په دې خاطر د خپل هېواد لوړو ګټو ته په کتو، سپارښتنه کوم چې امیلي او ټیم یې هر څه چې لازم ګڼي، تر سره کړي او خپل ټیم ته مې ویلي چې هغوی هم همداسې وکړي.»

په ورته وخت کې د امریکا د کانګرېس ډیموکرات غړو مورفي ور غوښتې وه، ترڅو د واک د لېږد د ځنډېدو د دلیل په اړه معلومات ورکړي، خو نوموړې حاضره نه شوه.

د دې اداري ویاند ویلي چې د امریکا متحده ایالتونو د عمومي خدماتو اداري مرستیال به د نومبر په ۳۰مه د سنا مجلس د کمېټو ناسته کې ګډون وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا متحده ایالتونو په مشګین، پنسلوانیا، او جورجیا کې د ټرمپ دعوه کوم ځای ته ونه رسېده او دغو درېو ایالتونو جوبایډن په ټاکنو کې بریالی اعلان کړی دی.


## د کتـــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه

### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




دولت: دا هسې یو وهم دی، زه فکر نه کوم. لکه جنرال صېب چې وویل، موږ چې هر څه کوو، ښکاره یې کوو. په هر صورت، را به ما ته ونه وایې چې څه وواېم او څه نه. زه نه پوهېږم چې اوس په RAW او IB کې څه روان دي. زه له هغو کسانو سره چې په ټلوېزیونونو کې را څرګندېږي، موافق نه یم. ولو که په کتاب کې یې هم یادونه وشي.
دوراني: په دې کچه څوک باید ملامت نه شي. هېڅوک به د ښاغلي دولت په اړه داسې فکر ونه کړي.
دولت: د هغه امتیاز دا دی چې زموږ له لوري یې له یوه افسر سره د لیدنې تجربه درلوده. نوموړي د مشرانو په کچه لیدنې کړې دي. خو ما نه دي کړې. دا زما لپاره ښځې ځانګړې وه، له هغه او بیا د ISI له نورو سیالانو سره لیدنه.
دوراني: پر هغه کس باندې چې د ISI د اجېنټ تور پورې شوی و، وروسته مې ومونده چې زموږ لپاره کار نه کوي.ISI یاد کس نه و ګومارلی، نوموړی یو بې ګټې او مشکوک سړی و.
سېنها: اشاره یې موږ ته ده.
دولت: زه په دې قضیه کې ښکېل نه وم.
دوراني: یو څوک به هېڅکله د دې ډول کسانو استخدام ته زړه ښه نه کړي، ځکه چې دا ډول کسان استخدام کېدای نه شي. خو کله چې یو کس راولاړېږي او خپله وایي چې زه فلاني ته کار کوم، نو څه ورسره وکړو؟ یوازې ځان مطرح کول غواړي. ما وویل، که څوک تا ته کار کوي، هېڅکله به ونه وایي چې چا ته او څه ډول کار کوي. خو دا هغه څه دي چې پېښېږي! دغه ډول تور د هغه چا پر خلاف لګول کېږي چې کمزوری یا شکمن وي. داسې نه ده چې له پولې را اوښتونکي هر کس باندې د ISI یا د RAW د اېجېنټ شک وشي.
سېنها: تاسو چې کله د ISI مشر وی، د RAW له کوم مشر سره مو لیدلي وو؟
دوراني: له باجپای سره مې په ۱۹۹۱ کال کې په سنګاپور کې ولیدل. موږ دوه ورځې خبرې وکړې او بحث مو د هغه وخت پر تحولاتو او پرمختګونو متمرکز و. د بحث اصلي ټکی مو د کشمیر پاڅون و، ځکه چې په کشمیر کې لانجې د ۱۹۹۰ کال په اګست کې ISI ته زما تر راتګ وړاندې سر راپورته کړی و. په اصطلاح د «ګېټس ماموریت» څخه وروسته موضوع نوره هم ګرمه شوه، چې بیا زموږ د بهرنیو چارو وزارت په نوبت چې زه ټول امتیاز هغوی ته ورکوم، د دواړو استخباراتي مشرانو ترمنځ د خبرو زمینه برابره شوه او نږدې شپږ میاشتې مو خبرې اترې روانې وې. کله چې په لومړي ځل له یوه چا سره ملاقات کوې، نو ډېر وخت دې په دې لګېږي چې مقابل لوری لومړی و ارزوې او دا په ډاګه کړې چې څنګه خبرې ورسره وکړې. دا کار تر ډېره په لومړي ځل لیدنه کې نه، بلکې په دویم، درېیم یا څلورم ځل لیدنه کې ترسره کېدای شي، خو لومړی ځل لیدنه تل یوه ستونزه وي. کوم خنډ رامنځته نه شو. موږ ولیدل. زه د یو شي په اړه ډاډه وم: د خبرو پر مېز زما مخامخ کس یو باتجربه جاسوس یا مخبر و. هغه د RAW مشر و. هغه به خامخا خپل ژوند په همدې مسلک کې تېر کړی و. هلته یو کس و چې لا یې هم زده کړه کوله، زه فکر نه کوم چې یو څوک دې په یوه کال کې وکړې یا په هغومره وخت کې چې ما په MI او ISI کې تېر کړی دی. زه باید ډېر محتاط وم.
دولت: جالبه ده چې جنرال صېب وایي زموږ مشران باتجربه او ښه مسلکي دي، په داسې حال کې چې موږ تل په دې نظر یو چې ISI ځانګړې دی. دوی ډېر واک لري او هر هغه څه چې وغواړي کولای یې شي، لکه یوه اصطلاح چې ورته کارول کېږي: د دولت په منځ کې دولت.
دوراني: نو ما او باجپای یو ځل ولیدل، خو دې لړۍ بیا دوام ونه کړ. که چېرته دواړو هېوادونو ښه نیت لرلی، نو د ناستو دا لړۍ به په سمه توګه تعقیب شوې وای. خو هغوی نه شوای کولای ځکه چې شکونه او بدګومانۍ زیاتې وې. کنه له اې کې ورما سره د حمیدګل ناستې او له نورو سره زما ناستې کېدای شوای چې بنسټیزې شوې وای. پرته له دې چې د هرې ناستې لپاره وخت اعلان شوی وای. خو هغوی ملاقات نه کوي، هر ځل د مشرانو په کچه ملاقات کېږي او هر ځل له سره پیل کېږي. د دوامداره پروسې په توګه نه وي. داسې نه دي شوي چې د مشرف له څلورو ټکیو څخه یوه انتخاب کړې.
دولت: ځکه چې بهیر پوخ شوی نه دی. که فکر کوې چې د استخباراتو مشران د لوړې کچې خلک دي، نو کچه باید معلومه شي یا د منځنۍ کچې پلاوی دې وټاکل شي. خو پرېکړه چې ناستې ترسره شي، که بنسټیزې شي نو یوه پایله به ترې لاس ته راشي.
دوراني: هغه څوک چې د دولت په دنده پوهېږي دا حقیقت ښه درک کولای شي ځکه چې که د ISI یا RAW مشران د کوم کار ترسره کول غواړي، نو په دې مانا نه ده چې کار به حتماً کېږي. په پرېکړو کې ټولې اداري ښکېلې وي. **دوام لري...**

# هیلې مو پر رښتیا بدلې کړئ

اکسوس کتابپلورنځی




ستاسې هیلې څه دي؟ ایا د ژوند په اوږدو کې به خپلو دې هیلو ته ورسېږی؟ ښه پوهېږم چې ستاسې زړه همدغه څه غواړي. باوري یم چې تاسې هیله لرئ چې همداسې دې وشي، خو ایا رښتیا تاسې کولای شئ خپلو دې هیلو ته ورسېږئ؟ څه فکر کوئ، څومره ممکنه ده چې تاسې د بریالي شئ؟ په پنځو کې یو، په سلو کې یو، په میلیون کې یو؟ څه پوهېږئ چې ستاسې د بریالي کېدو چانس زیات دی او یا که ستاسې هیلې تلپاتې او رښتینې دي؟ ایا دې ته اماده یاستئ چې خپل بخت و ازمویئ؟ ډېری کسان چې زه یې پېژنم، هر یو یې هیلې لري. که دا ونه وایم چې له زرهاوو کسانو مې د هغوی د هیلو په اړه پوښتلي، خو له سل هاوو خو مې حتماً پوښتلي دي. ځینې په ډېره مینه د هغوی په اړه خبرې کوي. ځینې بیا د خپلو موخو په اړه له خبرو کولو کرکه لري، هغوی داسې مالومېږي چې په لوړ اواز یا پوره جرئت د خپلو موخو په اړه له خبرو کولو شرمېږي. دوی هېڅکله د خپلو موخو د لاس ته راوړلو په اړه خپل بخت نه دی ازمویلی. دوی نه پوهېږي چې نور خلک به ور پورې وخاندي او که نه. دوی پر دې باوري نه دي چې هیلې یې تر حد زیاتې لویې دي او که تر حد زیاتې کوچنۍ. دوی رښتیا هم پر دې نه پوهېږي چې ایا کولای شي خپلو هیلو ته ورسېږي او یا هم هغوی ته په رسېدو کې له ماتې سره مخ شي. هغوی په دې اړه چې څنګه کولای شي خپلو هیلو ته ورسېږي، هېڅ فکر او نظر نه لري.
پر هغه څه چې دوی پوهېږي، هغه د خپلې خوښې او علاقې وړ موخې او هیلې په اړه یو مبهم او ارماني برداشت دی، چې هېڅکله یې په اصلي او حقیقي بڼه نه پوهېږي. دوی پر دې نه پوهېږي چې څنګه کولای شي خپلو دو هیلو ته ورسېږي. که ستاسې په اړه هم دا خبرې صدق کوي، باید خوشاله و اوسئ چې هر وخت ستاسې لپاره لا د هیلې لرلو فرصت شته او باوري یم چې د دې کتاب لوستل به درسره مرسته وکړي.
کله مو چې په ښوونځي کې درس لوست، ایا په یاد مو دي چې ښوونکي د ازموینې له اخیستو مخکې تاسې ته ویلي وو: «دغه مطلب چې تاسې ته یې وایم، په دې کې د ازموینې پوښتنه راځي؟» ډېر داسې ښوونکي مې لیدلي چې د زده کوونکو د تشویق او هڅونې لپاره دا او دېته ورته خبرې کوي. هغوی هر وخت زموږ د چمتووالي په نیولو سره غواړي چې موږ په ازموینه کې بریالي شو. رښتیا، له ازموینې اخیستو د هغوی هدف دا و چې موږ د بریالي کېدو لپاره اماده کړي.
د کتاب لیکوال وایي، زما هیله دا ده چې زه هم ستاسې لپاره له هغو هڅوونکو ښوونکو یو شم. غواړم تاسې دې ته اماده کړم چې د خپلو موخو په پېژندلو سره وشی کولای هغوی ته ورسېږی. څنګه؟ باوري یم که په دې کتاب کې پر راغلو پوښتنو سم پوه شی او هغه له ځانه وپوښتی او وشی کولای چې په سم ډول هغوی ته ځوابونه پیدا کړی، تاسې به خپلو موخو ته د رسېدو لپاره تر ټولو ښه چانس ولری. هرڅومره چې په دې اړه ستاسې خبرې مثبت وي، هماغومره به ستاسې د بریا چانس هم زیات وي. ما په همدې خاطر دا کتاب لیکلی دی.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | نړیوال سیاسي شطرنج | سید انتظار خادم | ۲۵۰؋ |
| ۲ | د سیاسي لوبو ډګر | وحیدالله صدیق | ۷۰؋ |
| ۳ | مالي او پولي بازارونه | عبدالجبار وحدت | ۱۵۰؋ |
| ٤ | لغت پوهنه | دولت محمد لودین | ۱۳۰؋ |
| ۵ | د ژورنالېزم اساسات | نوزادالله ودېر | ۱۳۰؋ |
| ٦ | باچا خان په حیث د یو کامل مسلمان | سعدالرحمانن مسرور | ۱۰۰؋ |
| ۷ | دنیای سوفی | یوسستین ګردر/حسن کامشاد | ٤۵۰؋ |
| ۸ | غرور و تعصب | جین آستین/شهره حسین نژاد | ۳۸۰؋ |
| ۹ | جادوګر هنر | اسدالله غضنفر | ۳۰۰؋ |
| ۱۰ | د لیکوالۍ اصول | ګل رحمن رحماني | ۲۰۰؋ |
| ۱۱ | خېرنیز او د مونوګراف لیکنې عملي لارښود | محمدابراهیم ابراهیمي | ۱۲۰؋ |
| ۱۲ | ادب تاریخ | محمداسمعیل‌یون | ۲۷۰؋ |
| ۱۳ | د سمونې لارښود | عبدالسمیع وحدت | ۱۸۰؋ |
| ۱٤ | عدلي طب | عمران ظفرزی | ۳۰۰؋ |
| ۱۵ | دنړیوالوسازمانونوحقوق | فرهاد طلایي/بابرزی هېواد دوست | ۲۲۰؋ |
| ۱٦ | اسلام او ډیپلوماټیک حقوق | محمدحسین پوراميني/انیک محمد ذکي | ۱۸۰؋ |
| ۱۷ | سیاست های عمومی اقتصادی | عبدالجلیل نیکجو | ۲۰۰؋ |
| ۱۸ | مدیریت آموزشی | محمدعلی فطرت | ۲۵۰؋ |
| ۱۹ | معادله جادویی | هال لرود/فریبا جعفری نمینی | ۳۰۰؋ |
| ۲۰ | د افغانستان د بیمې حقوق | ګل احمد نعیمي | ۱۵۰؋ |
| ۲۱ | د میراث احکام | عبدالعزیز/امان الله اماني | ۲۲۰؋ |
| ۲۲ | حقوق اساسی | سمیرالله حسام | ۲۵۰؋ |
| ۲۳ | پول، ارز و بانکداری | فردریک میشکن/علی جهانخانی و علی پارسائیان | ۲۰۰؋ |
| ۲٤ | زبان اشاره کودکان و نوزادان | دایان رایان/ افسانه مقدم | ۲۳۰؋ |
| ۲۵ | چګونه رفتارهای خوب را به کودکم آموزش دهم؟ | دکتر استیفن ګاربر-دکتر ماریان دنیلز ګاربر /شمس الدین حسینی الهام آرام نیا | ٤۲۰؋ |
| ۲٦ | چګونه از جایګاه فعلی خود به جایګاه دلخواهتان برسید؟ ۲۵ اصل موفقیت | جک کنفیلد/مهین خالصی | ۲٦۰؋ |
| ۲۷ | دیګه عذر خواهی نکن دختر | ریچل هالیس/افسانه مقدم | ۱۸۰؋ |
| ۲۸ | همه چیز به نفع تو پیش می رود | جوئل اوستین/افسانه مقدم | ۲۵۰؋ |
| ۲۹ | قهرمان درونت را کشف کن | راندا برن/سیما فرجي | ۲۳۰؋ |
| ۳۰ | ماشوم روزنه | ګری چپن، رزکمبل/آمنه ستانکزۍ | ۱۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۷٥ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ٤۷٥ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,٥۰ |

### بيړنۍ شميرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانۍ

# اووه ارزښتمن رازونه؛ په دنده کې مو د بریا تضمین کوي

ژباړه: عطامحمد میاخېل

په دنده کې د بریا د رازونو په اړه ډېر زیات کتابونه شته، خو ټول يې په داسې ښه خبرې کوي چې ګویا له یوه روباټ سره مخامخ یو. معمولاً په دې کتابونو کې احساسات نالیدلي نیول کېږي، دا په داسې حال کې ده چې د یوې کارې ورځې د پیل لپاره احساسات مهم او پیاوړی رول لري. د دې لیکنې په دوام پر اوو هغو رازونو باندې رڼا اچول کېږي، چې تاسو خپلې موخې ته رسوي.

د کارې ورځې په پیل کې ډېر زیات ارواییي فشار (سټرېس) لرو، خو که وکولای شو خپله ورځ په آرامتیا او پرته له تشویش او اندېښنې پیل کړو، ډېر زیات تمرکز به ولرو او په غوره توګه به وکولای شو چې خپلو کارونو ته لاسرسی وکړو.

که د ورځې په پیل سره ډېرو ټیلیفونونو او پیغامونو ته ځواب ورکړو، نو خپل ټول وخت او انرژي مو خپلو شاوخوا پېښو ته په ځواب ورکولو باندې مصرفېږي، نور به د بریا د رازونو د موندنې لپاره وخت ونه لرو، خو واقعاً په دنده کې د بریا تر لاسه کولو رازونه څه دي او څنګه کولای شو چې ورته لاسرسی پیدا کړو؟

باید وکولای شئ تر کومه ځایه چې امکان لري، خپله ورځ په منظم پروګرام سره پیل کړئ. په ورځني پروګرام سره به پر شرایطو باندې ښه کنټرول ولرو او تشویش او ارواییي فشار مو را کمېږي، نو د منظمو او له پروګرام سره سمو ګامونو په پوره کولو سره د بریا په لور به پرمخ لاړ شی. کله چې وکولای شی سهار مو په ښه توګه پیل کړی، د ورځې په اوږدو کې به هم له ځانه په کار او دنده کې مناسب اغېزمنتوب وښیی.

**۱- د کارونو د تر سره کولو لپاره نن او سبا مه کوئ**

ښايي د یوه کار د تر سره کولو لپاره غفلت وکړو او تل هغه کار وځنډوو، په داسې حال کې چې بریالي کسان يې د تر سره کولو په لټه کې دي. په هر مقام کې چې واوسی، کله چې لاس پکار نه شی، نو له خپلو موخو څخه یوې ته به يې هم ونه رسېږی، ځکه چې علم او عمل یو د بل ترڅنګ مانا او ارزښت پیدا کوي.

په دنده کې د بریا لاسته راوړو له رازونو څخه یو دا دی چې د نن کار سبا ته پرې نږدئ، په حقیقت کې په نن کې د ښو پروګرامونو تر سره کول، په سبا کې د بې نیمګړتیا پروګرامونو له تر سره کولو څخه غوره دي، نو نباید د هېڅ کار تر سره کول په بېلابېلو بهانو سره شاته وغورځوو او دغه راز نباید د مناسبو شرایطو په لټه کې واوسو، نو په دنده کې د بریا لاسته راوړو راز په اوس کې اقدام کول دي او نباید اجازه ورکړو، چې ذهنی وېرې مو د پرمختګ مخه ونیسي. اوسمهال دی چې موږ ته د بریا او ډېر پرمختګ شونتیا راکوي.

**۲- له محدودیتونو څخه تېر شئ**

کله چې له محدودیتونو سره مخامخ شی، نو بریا او پرمختګ ته به ورسېږی. ډېره ښه ده چې پر هواره لاره حرکت وکړو، خو د زده کړې لپاره اړینه ده، چې خپل ځان ونګوو او له بېلابېلو شرایطو سره مخامخ شو، ښايي لږ سخته او ستونزمنه وي، خو په پای کې ذهني ودې ته رسېږو.

له ننګونو او ستونزو سره مخامخ کېدل موږ غښتلي کوي، کله چې تر ډېره په دې کندې او کپره لاره کې واوسو، ډېر زیات څیزونه زده کوو، باید حرکت وکړو، له تېروتنو او سختیو سره مخامخ شو، ماتې وخورو او یو ځل بیا را پورته شو او خپلې لارې ته دوام ورکړو.

**۳- په سختو شرایطو کې شهودي تصمیمونه‌ونیسئ**

له شهود څخه انکار نه شو کولای، ځکه زموږ د ژوند په تېرو تجربو او ناخبرۍ باندې پوهېږي. ښايي شاوخوا خلک مو یوې غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړي، خو زموږ دننني حس د «نه» په لور سوق کېږي، په دې شرایطو کې د دې احساس لپاره په بشپړه توګه یو دلیل شته.

په سختو تصمیمونو کې د پام وړ معلومات تر لاسه کړئ او تر کومه ځایه چې فکر کوی، خپل دنني غږ ته غوږ ونیسئ، بریالي کسان په ښه توګه په شهود باندې اعتماد کوي، ځکه هر څومره چې ډېر په خپل دنني حقیقت باندې تکیه وکړي، نو خپلو خوبونو او موخو ته يې د لاسرسي احتمال ډېرېږي.

**۴- ډېر ژر مه ناهیلي کېږئ او خپله موخه مجسمه کړئ**

کله چې د ډنګروالي لپاره تصمیم نیسو، ښايي په هره بهانه چې وي، ورزش شروع کړو او په غذايي رژیم کې مو بدلون راولو، د کارو بار په برخه کې هم همداسې ده، هغه وخت خپلې موخې ته رسېږو چې ناهیلي نه شو او له ستونزو او سختیو سره مبارزه وکړو.

ډېری کسان د سختیو او ننګونو د رامنځ ته کېدو پر مهال اراده يې کمزورې کېږي او د آسانه لارې په لټه کې دي، په داسې حال کې چې آسانه لاره موږ بېلارې کوي او له خپلې موخې څخه به مو لرې کړي.

بریالي کسان هڅه کوي چې خپلې موخې په خپل ذهن کې مجسمې کړي، څو له ناهیلۍ او ناځاپي دربدو څخه لرې شي.

د بېلګې په توګه، هغه څا چې په ډېرې سختۍ سره يې خپل وزن کم کړی دی، تل له خپل چاغښت څخه له ځان سره یو انځور لري، څو ځان ته د دې یادونه وکړي چې چاغښت په کمین کې دی او نباید له خپلې موخې څخه چې د غړو تناسب دی، واټن واخلي.

ځینې کسان خپل کورنی انځور په خپل کاري مېز باندې ږدي، څو خپل ځان ته د دې یادونه وکړي، چې د خپل زړه ټوټو (اولادونو) لپاره زحمت باسي. کله چې غواړی له خپلې موخې څخه لرې شی، نو په هره لاره چې وي، خپل ځان ته د زغم او صبر یادونه وکړئ.

**۵- له الهام بښونکو افرادو څخه مشوره واخلئ**

د هر کار د تر سره کولو لپاره چې اقدام کوی، نو د نورو مرستې ته به اړتیا ولری، څو وکولای شی بریا ته ورسېږی او هېڅکله به په یوازې توګه بریالي نه شی. ډېره زیاته سخته ده چې په بېلابېلو کتابونو باندې په تکیه کولو سره یو ښه موقف ته ورسېږی، خپلو موخو ته د رسېدو لپاره باید د هغو کسانو له مرستې څخه هم ګټه واخلئ، چې مخکې يې دا لاره وهلې ده.

زیات تمرین کول ستاسو معلومات ډېروي، خو له روزونکي او الهام بښونکي فرد سره مشوره کول، په تاسو کې له ډېرې هڅې سره لېوالتیا هم رامنځ ته کوي. کله چې د بریالیو کسانو ژوند تحلیل کړی، نو په بشپړه توګه به له یوه روزونکي یا غوره بېلګې سره مخامخ شی، چې د هغو د بریا سبب شوي دي.

کله وخت بریالي کسان ارزوو او د هغوی د موقعیت په ارزونې سره، په خپل ذهن کې د کار د دوام لپاره لا ډېرې انګېزې ته رسېږو، هر فرد خپلې د پام وړ موخې ته د رسېدو لپاره د آیډیاوو په جوړولو سره ښې او فوق العاده انګېزې ته رسېږي، په حقیقت کې د دې جملې په ویلو سره لکه: «نور توانېدلي دي، زه هم کولای شم» بریا ته د رسېدو لپاره به ډېره زیاته انرژي او انګېزه تر لاسه کړی.

**٦-د خپلو شاوخوا خلکو له نظرونو او نیوکو څخه هرکلی وکړئ**

ارسطو وايي: «له نیوکې څخه د ډډه کولو لپاره باید هېڅ ونه وایو، هېڅ ونه کړو او هېڅ بد يې ونه ګڼو» که د ټولو هغه کارونو لپاره چې تر سره کوی يې او د هغو فکرونو لپاره چې لری يې، درباندې نیوکه کېږي، په اړه يې اندېښنه مه کوئ، دا نیوکې دي چې ستاسې نیمګړتیاوې در په ګوته کوي او د له منځه وړلو لپاره يې تاسې ته انګېزه درکوي.

د دې لپاره چې له نیوکو څخه ګټه واخلی، پر هغه لاره چې بریالیو کسانو وهلې ده، ګام پورته کړئ، ښايي له نیوکو، کینې، حسد او منفي لید سره مخ شی؛ نو وې ارزوئ او هېر يې کړئ، په مقابل کې يې د هغو کسانو پر سپارښتنو باندې عمل وکړئ چې له تاسو سره مرسته کوي، څو خپلو موخو ته ورسېږی او جوړونکو او مثبتو نیوکو ته پام ولری، د جوړونکي او مثبت فیډبک په تر لاسه کولو سره له هغه شخص څخه مننه وکړئ، دا کار د دې سبب ګرځي، څو ټول هغه کسان چې ترې مننه شوې ده، تاسو له خپل ملاتړ او مثبتې انرژۍ څخه برخمن کړي.

**۷- کم غرور ولرئ**

بریالي کسان مغرور نه دي او دې درک ته رسېدلي چې باید کله وخت تېروتنه وکړي او وبښئ ووايي. هغوی په دې مسئله باندې پوه دي چې په هر څه باندې نه پوهېږي او تل باید په نورو باندې هم حساب وکړي.

# جوزیف بورل: په افغانستان کې د تمې خلاف تاوتریخوالی اوج ته رسېدلی

د اروپايي ټولنې د بهرنیو چارو وزیر جوزیف بورل وايي، په افغانستان کې د تمې خلاف تاوتریخوالی خپل اوج ته رسېدلی او له جګړو ستړي افغانان نور دا وضعیت نه شي زغملی. هغه زیاته کړې، افغانان له تېرو ۴۰ کلونو راهیسې پرله پسې جګړو ځپلي او نور له جګړو ستړي او په سوله کې د ژوند کولو حق لري. نوموړي جنیوا کنفرانس ته په خبرو کې ویلي، تاوتریخوالی سبا نه، بلکې نن باید پای ته ورسېږي. هغه دغه راز د سولې په پروسه کې د ښځو د حقونو پر ساتنې هم ټینګار کړی دی. په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې ډېبرا لاینز هم د سولې خبرو پر دوام ټینګار کړی او هیله يې ښودلې چې دا خبرې د یوې تلپاتې سولې باعث شي. اروپايي اتحادیه داسې مهال دا څرګندونې کوي چې تازه واشنګټن پوسټ امریکايي ورځپاڼې ویلي چې طالبان لاهم پر خپل دریځ او جګړو ټینګار کوي. دې ورځپاڼې په یوه تحلیل کې په افغانستان کې د سولې روان بهیر او روانې جګړې ته کتنه کړې ده. په مطلب کې راغلي چې طالبانو تر دې دمه د دوحې پر هوکړه عمل نه دی کړی او جګړې يې شدیدې کړې دي. واشنګټن پوسټ وايي، د دوی معلومات ښيي چې د طالبانو د کمزورې کولو لپاره د امریکا هوايي بریدونه مهم وو، خو دغه ډلې تر ټولو ډېر د هوايي بریدونو پر کمولو ټینګار کاوه، چې د کمېدو په مقابل کې يې خپلې جګړې نه دي کمې کړې. سرچینه دغه راز لیکي چې طالبان د نوو ځایونو په نیولو بوخت دي، جګړې يې ډېرې کړې دي او ملکي مرګ ژوبله ډېره شوې چې دا هر څه به راتلونکی ولسمشر جو بایډن د افغانستان په برخه کې له یوه بن بست سره مخ کړي. سرچینه کاږي، د دې وخت دی چې راتلونکی ولسمشر په چټکه توګه په افغانستان کې د جګړې او سولې روان بهیر مدیریت کړي.

# <u>سټولټنبرګ:</u> په افغانستان کې به زموږ راتلونکی ماموریت د ناټو د دفاع وزیرانو په غونډه کې مشخص شي

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ وايي چې اوسمهال په افغانستان کې د پوځي ماموریت د پای ته رسېدو وخت نه دی.

نوموړي دغه څرګندونې د ناټو د پارلماني شورا ٦٦مې غونډې ته کړې او زیاته کړې يې ده چې له متحدینو يې یو هم نه غواړي چې له اړتیا وړاندې په افغانستان کې پاتې شي.

هغه ویلي: «دا هم نه شو کولی چې دا خطر ومنو چې افغانستان یو ځل بیا د نړیوالو ترهګرو پر مرکز بدل شي چې زموږ پر هېوادونو باندې بریدونه طرحه او تنظیم کړي.»

د ناټو سرمنشي په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو د شمېر د راکمېدو او په هغه هېواد کې د داعش ترهګریزو فعالیتونو ته په اشارې ویلي: «نه شو کولای داعش ته اجازه ورکړو چې افغانستان د خپل ترهګریز فعالیتونو مرکز کړي.»

سټولټنبرګ دغه راز ویلي، په افغانستان کې د ناټو راتلونکی ماموریت به د ناټو د دفاع وزیرانو په غونډه کې چې د فبرورۍ په میاشت کې جوړېږي، مشخص شي. هغه په افغانستان کې د ناټو ماموریت د دوام په اړه پرېکړه ستونزمنه بللې او ویلي يې دي: «یا پاتې کېږو او د پوځي ماموریت د دوام بیه ادا کوو، یا هم وځو او د حاصل شوو لاسته راوړنو بایللو خطر او د سولې د بهیر تزلزل منو.»

سټولټنبرګ ویلي چې اوسمهال په افغانستان کې د پوځي ماموریت د پای ته رسېدو وخت نه دی. نوموړي زیاته کړې: «باید په یاد ولرو چې یو ځای افغانستان ته تللي وو او هر وخت چې فرصت مناسب وي، په یوه همغږې کړنلاره له هغه هېواده باید یو ځای سره ووځو.»

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا-طالبانو د هوکړې له مخې چې د روان کال د فبرورۍ په وروستیو کې په دوحه کې لاسلیک شوه، په هغه صورت کې چې طالبان د القاعده شبکې په ګډون له ترهګرو ډلو سره د اړیکو غوڅولو، تاوتریخوالي کمولو او د افغانستان له حکومت سره د مذاکراتو په اړه خپلو ژمنو ته وفادار پاتې شي، بهرني ځواکونه به د ۲۰۲۱ ز کال د مې تر میاشتې پورې له افغانستانه ووځي.

خو د یادونې ده، تر اوسه نه د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې مذاکرات په رسمي بڼه پیل شوي او د امریکايي پوځي چارواکو په وینا، نه هم د طالبانو ډلې د القاعده له شبکې سره خپلې اړیکې په بشپړه توګه پرې کړې دي.

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندی پنځمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۵مه |۶۳۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۹ | ۷ | ۵ | ۱۳ | ۸ |
| ۱ | ۱ | ۲ | ۰ | ۸ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۸ | لمر ختل ۰٦:۳٤ | ماسپښين ۱۱:٤۰ | مازيګر ۰۲:۲٦ | ماښام ۰٤:٤٥ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ




## تازه شمېرې: په امريکا کې د کرونا ويروس د مړو شمېر نږدې ۲٦٤ زرو ته رسېدلی دی



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې ۵۹ میلیونه او ۷۲۰ زره او ۹۳۸ ته رسېدلې دي. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله يو ميليون او ۴۰۵ زره او ۵٦۵ کسان مړه شوي او له ۴۱ ميليونو ډېر ترې ښېرته رغبدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس، د امريکا متحده ايالتونه د کرونا ويروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امريکا کې د دغه ويروس ټولې ۱۲ میلیونه او ۷۸۳ زره او ۷۲۳ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲٦۳ زره او ۸۱۲ نور امريکايان ترې مړه شوي دي.
له امريکا وروسته هند د نهه ميليونه او ۱۹۳ زره او ۹۸۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د شپږ ميليونه او ۸۸ زره او څلور مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دريم، فرانسه د دوه ميليونه او ۱۴۴ زره او ٦٦۰ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او روسيه د دوه ميليونه او ۱۳۸ زره او ۸۲۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.
دغه راز هسپانيا، برېټانيا، ايټاليا، ارجنټاين او کولمبيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## اروپايي ټولنه: ايران دې له نړيوالو سره د شوي اټومي تړون له سرغړونې ډډه وکړي

د ايران د اټومي تړون اروپايي غړو له دغه هېواده وغوښتل چې د اټومي تړون له سرغړونې لاس واخلي. د برېټانيا، جرمني او فرانسې د بهرنيو چارو وزيران په برلين کې د ايران د اټومي تړون په اړه د جنجالونو د حل کولو لپاره ښېرنۍ غونډه کوي. د جرمني د بهرنيو چارو وزارت وينډويې اندريس ساسې ويلي، له خپلو متحدانو سره په ګډه له ايرانه غواړي چې له اټومي هوکړې سرغړونه ودروي او خپلې اټومي ژمنې په بشپړ ډول عملي کړي. هغې ويلي: «زموږ په نظر ايران په منظم ډول د عمل د ګډ هراړخيز پلان سرغړونه کوي، له خپلو شريکانو سره، البته په ځانګړي ډول له خپلو اروپايي شريکانو سره په ګډه موږ له ايرانه په کلکه غواړو چې د موافقې سرغړونې ودروي او د اټومي پروګرام په برخه کې د خپلو ټولو تخنيکي ژمنو بشپړ تطبيق له سره پيل کړي، په غونډه کې به په توغندويي پروګرام او د ايران پر سيمه‌ييز رول هم خبرې وشي.»
دا غونډه يوازې څو ورځې وروسته له دې جوړېږي چې د اټومي انرژۍ نړيوالې ادارې په دې اندېښنه ښکاره کړه چې ايران سنتريفيوژنو ته ګاز تزريق کړي دي. د اټومي انرژۍ نړيوالې ادارې د ايران دا اقدام د هغه محدوديت خلاف بللی چې په اټومي تړون کې ايران ته ټاکل شوی دی.


## وزارت صحت عامه: جان باختگان ویروس کرونا در کشور به ۱۷۱۲ نفر رسیده است



وزارت صحت عامه، از ثبت ۲۹۰ واقعهٔ جدید بیماری کرونا در یک شبانه روز گذشته در کشور خبر داده و می گوید که تا کنون در افغانستان، تعداد واقعات مثبت ثبت شدهٔ این ویروس، به ۴۵۲۷۸ واقعه رسیده است.
به اساس معلومات این وزارت، در ۲۴ ساعت گذشته ۱۴۲۸ نمونهٔ مشکوک ویروس کرونا در لابراتوارهای کشور مورد آزمایش قرار گرفته، که از این میان ۲۹۰ واقعهٔ آن مثبت تشخیص شده است.
منبع افزوده است که با ثبت این آمار، تعداد مبتلایان به این ویروس در افغانستان، تا کنون به ۴۵۲۷۸ تن افزایش یافته است.
در خبرنامهٔ این وزارت آمده است که ۷۰ تن در کابل، ۴۷ در هرات، ۴۴ در ننگرهار، ۳۴ کندهار، ۳۰ در پروان، ۱۵ در غزنی، ۱۲ در تخار، ۱۲ در کندز، ۱۰ در نیمروز، ۸ در بغلان، ۵ در لوگر و ۳ تن دیگر در میدان وردک، به ویروس کرونا مصاب شده اند.
براساس معلومات خبرنامه، در یک شبانه روز گذشته، ۱۴٦ فرد مبتلا به ویروس کرونا، دوباره صحت یاب شده و شمار مجموعی بهبود یافتگان این ویروس، به ۳٦۱۲۲ نفر می‌رسد.
همچنان وزارت صحت گفته است که در ۲٤ ساعت گذشته، ۱۷ تن به اثر ابتلا به (کوید- ۱۹) فوت کرده و از آغاز شیوع ویروس کرونا تاکنون در افغانستان، شمار مجموعی جان باختگان از اثر این بیماری، به ۱۷۱۲ نفر رسیده است.

## ژونــــد

## دغه عادتونه مو غاښونه خرابوي



که د غاښونو پاکوالي ته پام ونه شي، د غاښونو د توروالي او خرابېدو لامل ګرځي. خوله او غاښونه د انسان د روغتيا هینداره بلل کېږي. ډېری کسان د غاښونو په بورس کولو کې احتياط نه کوي. د غاښونو په بورس کولو کې بايد له زيات سرعت يا تېزۍ ډډه وشي چې وريو او غاښونو ته مو زيان ونه رسېږي او تر ۲ يا ۳ دقيقو پورې هره ورځ دوه ځله استعمال شي. دغه راز زموږ په ټولنه کې زياتره خلک دا عادت لري چې تر ډوډۍ خوړلو وروسته د غاښونو د پاکوالي لپاره له ډکي استفاده کوي. د غاښونو روغتيا پوهان وايي، دا عادت مو د غاښونو روغتيا ته زيان اړوي او ورۍ مو ورسره زخمي کېږي. د انرژيو او يخو مشروباتو څښل هم نه يوازې عمومي رغتيا ته زيان رسوي، بلکې د غاښونو روغتيا ته مو هم جدي زيان اړوي، ځکه دا ډول څښاک په خپل ځان کې بې‌شمېره کېمياوي مواد لري او څښل يې غاښونه توروي، ورستوي يې او همدا ډول مو معدې ته هم جدي ګواښ پېښولای شي.

## وټس‌اپ يوه بله ګټوره ځانګړنه اضافه کوي




په روانه ميلادي مياشت کې هم وټس‌اپ په خپله له منځه تلونکو پيغامونو سربېره، ډېرې نورې ځانګړنې اضافه کړې، خو دغه کارپال غواړي ځينې نورې ځانګړنې هم اضافه کړي. يو له دغو ځانګړنو څخه د ميوټ ويډيوز (Mute Videos) اسانتيا ده. څرنګه چې له نوم څخه يې هم ښکاري، د دې ځانګړنې په مرسته کاروونکي کولی شي د هغه ويډيو چې غواړي خپلو ملګرو ته يې واستوي يا خپل سټېټس ته يې پورته کړي، غږ بند کړي. اکثره ځينې خلک غواړي يوه ځانګړې ويډيو خپلو ملګرو ته واستوي يا خپل سټېټس ته يې پورته کړي، خو په ويډيو کې د هغو غږونو يا خبرو له امله چې نه غواړي نور يې واوري، دغه کار نشي کولی.
د وټس‌اپ دغه ځانګړنه به دغه ستونزه اواره کړي او کاروونکي به وکولی شي د کوم ويډيو ايډېټر له کارولو پرته د خپلې ويډيو غږ بند او خپلو ملګرو ته يې واستوي يا سټېټس ته پورته کړي. پر دې سربېره، وټس‌اپ پر ځينو نورو ځانګړنو هم کار کوي، خو تر اوسه يې په اړه ډېر معلومات نه دي ورکړل شوي.

عزيزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزيزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختيا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بايومټريک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ ليدل، د صرافۍ خپلکاره ماشين څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پيسې وېستل، د مبايل شمېرې ته پيسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه يې ماشين ترلاسه کول، د مبايل شمېرې ته کريډيټ زياتول، د بل اداينه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه يې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازياتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

